هاري

نیټه ۰۳/۱۲/۲۰۰۹

# جانسن، ګوربچوف، اوباما

ښاغلی کریسټاف د هغو محدودو امریکايي لیکوالانو څخه دی چي د افغان ولس سره خاصه مینه او علاقه لري، او هم د افغاني جامعي په جوړښت او روابطو ښه پوهېږي. که څه هم د یوه لیکوال له ټولو مفکورو سره توافق امکان نلري، خو د ځینو مهمو ټکو سره یې موافقه هم لویه خبره ده. همدا وجه ده چي زه د ښاغلي کریسټاف مقالي وخت په وخت ترجمه کوم. زما هدف دا دی چي محترمو لوستونکو ته وښیم چي ټول امریکايي لیکوالان او مبصرین ضد افغان او یا ضد پښتون ندي. ښاغلي نیکولاس کریسټاف د ډسمبر پر ۳ مه د نیویارک ټایمز په اخبار کي یوه مقاله لیکلې ده چي تاسو یې بشپړه ترجمه لولئ.

داسي تصور وکړئ چي تاسو یو افغان کلیوال یاست او د افغانستان په جنوب کي ژوند کوئ.

تاسو ډېر کم سواد لرئ، خو د خپلي سیمي په تاریخ وياړئ چي مختلف اشغالګران یې په ټپه درولي دي، او په عین زمان کي د بهرنیانو په اړه سخت شکمن هم یاست. د نورو پښتنو غوندي ، تاسو هم په عمومي توګه طالبان نه خوښېږي ځکه اکثره یې سرټمبه افراطیان او پرته له جنګه په بل څه نه پوهېږي.

مګر تاسو د کافرو امریکايي عسکرو په باب لا زیات شکمن یاست. تاسو داسي کلي پېژنی چي امریکایانو پکښي مکتبونه، پلونه، او سړکان جوړ کړي دي، او هم یې د محلي مشرانو او دود او کلتور درناوی کړی دی. خو تاسو داسي کلي هم پېژنی چي د کفارو همدې عسکرو د کلیوالو کورونو ته داخل سوي دي، کورنی یې شرمولي دي، ښځي یې تلاشي کړي دي، او یا یې پر ښادیو او ودونو باندي بمونه اورولي دي.

تاسو خپه او په قهر یاست ځکه ستاسو قوم، یعني پښتون، چی په تاریخي لحاظ په افغانستان کي اکثریت او حاکم قوم وو، اوس د امریکایانو په مرسته له قدرت او مقام څخه پسي اخیستل سوی دی، او نور رقیب اقوام پر مسلط کړای سوي دي. بر علاوه، د افغانستان حکومت پخپل تاریخ کي د اوسني حکومت غوندي فاسد او شډل حکومت نه لاره. طالبان به ښايي بی کفایت وي، خو لږ تر لږه هغوی متقي پښتانه مسلمانان دي، او تر یو حده پوري پاک او رشتین خلک دي.

تاسو ټل پخپل هېواد کي د بهرنیو عسکرو د شتون په هکله اندېښمن یاست، خو په لمړیو کلونو کي چي په ګرده هېواد کي د امریکايي عسکرو شمېر فقط ۱۰۰۰۰ ته رسېده، حالات څه ښه ول. خو اوس، د جمهوررییس اوباما د سي شبني د شپې تر وینا را وروسته، ډېر ژر به یې شمېر ۱۰۰۰۰۰ ته ورسېږي. دا شمېر دري برابره تر هغه ډېر دی چي ښاغلي اوباما د جمهوري ریاست لوړه یادوله، او د ۲۰۰۳ په تناسب ۱۰ برابره زیات دی.

اوف. تاسو اوس هم د طالبانو په ارتباط مشکوک او بدګومانه یاست، خو ښايي هغوی د دغه کفارو په باب چي ستاسو ملک یې اشغال کړی دي څه رشتیا وايي. ښايي تاسو خپله بزه یا پسه خپل هغه قومي ته د ملاتړ په توګه ورکړئ چي د محلي طالبانو سره یو ځای سوي دی.

همدا وجه ده چي زیاتره خلک چي په افغاني کلیو او فعالیت کي کار کوي، د ښاغلي اوباما د اضافه عسکرو استولو فصیلي ته په شک او ډار ګوري. کله چي جمهوررییس جانسن ته د جمهوري ریاست مقام په میراث ورسېد، هغه په ویتنام کي د امریکايي عسکرو شمېر دوه برابره کړ، او کله چي ګوربچوف ته د افغانستان جنګ په میراث ورسېد، هغه هم افغانستان ته تازه دمه اضافه عسکر ولېږل. دواړو جمهوررییسانو ته باتلاق او بدمرغي په میراث رسېدلي وه --- او دواړو همدا میراثي جنګونه لا خراب او قیمتي کړل.

لکه په ویتنام کي امریکایانو، او لکه په افغانستان کي شورویانو، نن سبا موږ هم د نشنلزم زور ، کشش، او اپیل ته په سپکه سترګه ګورو. داسي ښکاري چي ښاغلی اوباما د اضافه عسکرو د استولو لپاره دونه تلوسه او شوق لاره چي د افغانستان بی کفایته حکومت چي موږ یې ساتو د هغه په شان تلوسه او شوق ورته نلري.

جنرال مک کریسټل پخپل ریوټ کي خبرداری ورکړی وو چي «اضافه منابع اصلي» ستونزه نده. هغه ویلي وو چي د نوي ستراتیژۍ ټینګار باید د افغانانو د زړونو او فکرونو پر ګټلو باندي وي: هغه لیکلي وو، «زموږ ستراتیژي باید


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د زیاتي اراضي پر نیولو او د یاغیانو پر ستولو باندي متمرکزه نه وي، بلکي زموږ اهداف باید د خلکو زړونه او فکرونه گټل وي.»

اوس پوښتنه دا ده چي ولي د افغانانو سره ښېغ په ښېغه سلا مشوري و نه سوي؟

ښاغلی گریگ مورتینسن چي د پاکستان او افغانستان په لیرو پرتو سیمو کي مکتبونه جوړ وي، وایي، « زما لپاره څه چي ډېره د اندېښني وړ خبره ده هغه داچي د افغاني جرگو او قومي مشرانو سره اصلا هیڅ سلا مشوره نده سوې.» د ښاغلي گریگ مورتینسن عالي خدمتونه « د چایو دري پیالي» په نامه کتاب کي بیان سوي دي، او د هغه نوی کتاب «له کانو څخه تر مکتبونو پوري» نومېږي. هغه وایي، « د افغانستان په باب ټول تصمیمونه د کانگرس د غړو او جنرالانود بحثونو نتیجي دي ، او د هغوی د فکرونو او مفکورو په اساس فیصله هم وسوه، او هیڅا د افغاني مشرانو سره سلا مشوره ونه کړه. د یوه قومي مشر پیغام دا دی: موږ وسلو او جنگي طاقت ته اړتیا نلرو، بلکي موږ فکري طاقت ته اړتیا لرو. هغوی مکتبونه غواړي، روغتونونه غواړي، هغوي یوازي نور اضافه عسکر نه غواړي.»

یو بل پروگرام چي زیات بریالیتوبونه یې تر لاسه کړي دي او د طالبانو سوکه سوکه ښېخ باسي د (ملي یووالي پروگرام) نومېږي. دا پروگرام د کلیوالو سره په سلامشورو مکتبونه، کلینکونه، د اوبو لگولو پروژې، او پلونه جوړوي. دا په ټول افغانستان کي تر ټولو کامیابه او پاک پروگرام بلل سوی دی.

د بین المللي ژغورني کمېټې مشر ښاغلی جورج رپ وایي، « دا یو عالي پروگرام دی. مگر چندان پیسي نه ورکول کېږي. دا پروگرام ډېر ارزانه هم دی. په افغانستان کي د یوه امریکایي عسکر په یوه کلن لگښت تاسو کولای سی چي د (ملي یووالي پروگرام ) پروسه په ۲۰ کلیو کي په لاره واچوئ.»

همدا شان پروژې – د نجو د مکتبونو په شمول— حتی د طالبانو په سیمه کي هم ممکني دي. یوه مرستندویه ډله وایي طالبانو اجازه ورکړه چي د نجونو مکتب جوړ کړي، خو پدې شرط چي ښځې معلماني به لري او هم به په کتابونو کي د جمهوررییس حامد کرزي عکس نه وي. بلخوا، طالبان عموما د هغو پروژو سره مخالفت نه کوي چي غښتلي محلي او ولسي ملاتړ لري. ( همدا وجه ده چي هغوی تر اوسه پوري د ښاغلي گریگ مورتینسن یو مکتب هم ندی سوځولی.)

په افغانستان کي د امریکا د بل کال پوځي لگښت به په گرده نړی کي د بل هر هېواد د رسمي نظامي بودجې څخه جگوي.

عموما، تعلیم او تربیه د ټولنو په باثباته کولو کي تر بل هر عامل غښتلی او ټاکونکی رول لری. تعلیم او تربیه معجزې نه جوړوي، خو د ماشومانو زیرېدو ربت او شمېر را کموي، د ژوندانه سطح جگوي، کورني او مدني شخړي راکموي، او ټروریزم کمزوری کوي. همدا وجه وه چي ښاغلی اوباما د خپل کمپین پر مهال د تعلیم او تربیې د نړیوال وجهي صندوق لپاره د دوو بیلونو ډالرو وراندیز وکړ --- داسي ښکاري چي هغه خپله دغه ژمنه ښېخي هېره کړېده.

زړه مي راته وایي چي ښاغلی اوباما په افغانستان کی بری غواړي، خو که چیري د ۳۰۰۰۰ اضافه عسکرو پر ځای ۳۰۰۰۰ مکتبونه جوړ کړي، دی به خپل هدف ته ډېر ور نژدې سوی وي. خو په عوض کی هغه داسي لاره غوره کړې ده چي باالاخره به د هغه د جمهوري ریاست لپاره د «آب حیات» لټون سي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ